# په پښتو ادب کښي د مېرمني برخه

پښتنه مېرمن د پښتنو د ټولني او اجتماعي سازمان شمزۍ وه، د کهاله ترتيب او د کور اداره ټوله په مېرمني اړه لرله. د نارينه وو او زلمو کار زراعت ، مالداري، حرفت، او د وطن دفاع وه. خو د ضرورت پر وخت مېرمني په دغو کارو کښي هم برخه درلوده، په کښت کښي به د مېړو سره اوږه پر اوږه ولاړه وه، د مالدارۍ د محصولاتو او لبنياتو څخه ګټه بيا ددې په لاس وه، او لاسي صنايع ئې روزله او بيا به هم دغه پښتنه مېرمن د وطن د دفاع پر ميدان له مېړو او زلمو سره توره په لاس ولاړه وه.

پوهنه او ادب خو هر وخت د امن او سلامتۍ په غېږ کښي روزل کيږي مګر د پښتنو تاريخي سرنوشت داسي کړ کېچن وُ، چي د دوي پېړۍ، پېړۍ د آزادۍ په جنګ او وطني دفاع کښي تېري سويدي. نو لکه پښتنو چي د پوهني او ادب او آرټ پالني ته وخت او فرصت نه درلود، پښتنه مېرمن هم د زماني ناخوالو او د تاريخ ظالمو څپو کښي

هسې سره را نښتې وه چې د لوستنې او پوهنې وسايل ئې کورټ نه لرله، او ددې کورنی چاپېر له دغو شيانو څخه تش وُ. خو بيا هم که د پښتو مدون او نامدون ادب ته ځير سو، نو د پښتنې مېرمنې برخه په ادبي رواياتو کښې مومو، او داسې ښکاري چې دې مظلومې ډلې، د پښتو ادب په روزنه کښې هم لاس درلود، او کله کله له مېرمنو څخه هم د پښتو ادب پر آسمان روښانه ستوري ځلېدلي دي.

## لنډۍ :

د پښتو ادب يو نامدون او بالکل عوامي قسم، لنډۍ او ټپې او ځينې نارې دي چې دغه ډول ادبي تخليقات ددې ژبې يوه خاصه او ډېره قيمتي پانګه ده، او که څوک وغواړي چې د پښتنو روحيات او ملي خصايص وګوری، نو ښايي په خاصه توګه د دوی د ادب دغه ښکلې برخه مطالعه کی. د لنډيو په جوړولو او ويلو کښې د مېرمنو برخه ډېره لويه او درنه ده د پښتو ادب دغه غوره او سپېڅلې پانګه تقريباً نيمې د مېرمنو د قريحو مخلوق ده او ډيري ښې لنډۍ پښتنو مېرمنو د جنګو پر ميدان او د مينې او عشق پر مرحلو کښې ويلي دي.

د لنډيو شاعر معلوم نه وي ، خو د پښتنو د لوی ملت صنعتي قريحه ئې خلاقه ده، او هغه لنډۍ چې د کومې مېرمنې له خوا ويلې سوي وي هغه د ټولو مېرمنو دي.

د مېرمنو په لنډيو کښې هر راز مضامين وي : د مينې له دردناکو پيښو څخه حکايت کوي، او مينه مېرمن خپل احساس پکښې ځايوي او د عشقي شاعرۍ بهترين مظهر ګڼل کيږي. پښتنه مينه پېغله خپل لالې د زړه په وينو روزی د مينې په دردناکه دنيا کښې ټول حواس خپل

مين ته متوجه وي خو سره له دې هم باور نه لري چي د ميني له سمسوره باغه به گل تول کی نو د محبوب د مقام لوړتيا او خپله نارسايي او د ميني په دنيا کښي خپل زيار او سعی داسي تصوير کوی :

پاس په کمر ولاړه گله !
نصيب د چا يي ؟ اوبه زه درخېژومه

پښتنه مينه د عشق په لار کښي ربړوونکي دردونه او زړه چوونکي ګرږمونه لري، مگر د پښتونوالي فطري تقاضا داده، چي سړی تحمل او حوصله ولري، او د زمانې ناخوالي ئي مات نه کړي، نو ځکه ددغو آلامو سهنه کوي او وايي :

پټ به د زړه دردونه تېر کړم
بېدرده يار ته به ونه وايم حالونه

په بله لنډۍ کښي پښتنه پېغله خپل بېل سوی آشنا ته داسي د وفا دارۍ پېغام ور کوي :

پر هندوستان خوشحاله گرزه !
زه به دا توري سترگي ستا په نوم ساتمه

د شرق شاعري د رقيب او غماز په غندلو ډکه ده، او دې غندني داسي اغېزې کړي وې چي په خطي دېوانو کښي به د رقيب کلمه چپه کښله کېده، د پښتنو پېغلو په لنډيو کښي ددې رقابت مختلف مناظر تصوير کېږي، مثلاً : يوه پښتنه پېغله خپل آشنا د چنار تر وني لاندي بيده ويني، نو وايي :

د ځانه اور واخلې چناره !
مين پر ما دی، خوب تر تا لاندي کوينه

د باغوان رقيبانه حسادت، او د بلبل تمنا په دې لنډۍ کښي د رخي يو بل منظر ښيي :

بلبل به خدای په گلو موړ کړي !
باغوانه ! ستا نېمگړی نيت مي ژړوينه

د پسرلي په ښکلي او زړه خوزوونکي موسم کښي چي پېغلي د گلو په رنگين گلشن کښي نڅا کوي او غريب مين ته هيڅ اعتنا نه لري، نو مين ورته وايي :

پسرلی ستا له کبره خوار سو
په زرغونو ختو دي مات کړه ژړ گلونه

مگر پښتنه پېغله د وفادارۍ په احساس او د مينې په جاذبه کښي داسي ځواب ورکوي :

پسرلی راغئ گلان دېر سول
د اوربل گل به خپل آشنا لره ور وړمه

په پښتني ادب کښي د عشق اظهار، لکه د پارسي ادب غوندي د نارينه او عاشق کار نه دی، او پښتنه مېرمن په لنډيو کښي ځانته حق ورکوي چي خپل، عاشقانه احساسات او رېړونه او دردونه په آزادۍ سره ښکاره کې. وگورئ ! يوه مظلومه پېغله په څنگه الفاظو خپل درد او الم د خپلو اوښکو په خونين داستان کښي څرگندوي :

پر مخ مي مه واهه ظالمه !
د اوښکو ډکي سترگي چاته واړومه ؟

پښتنه مېرمن يوازي د عشق په دنيا که د خپل مشترک هنر مظاهره نه کوي، بلکي لنډۍ د حمايت پر ميدان د وطني گټو دپاره هم استعمالوي او موږ پخپل ملي تاريخ کښي داسي وقايع مومو، چي د يوې مېرمني له خوا د يوې لنډۍ وينه تر توپو او توپکو موثره ثابته سوېده، او ځوانانو هر کله د دغو ادبي ټوټو په اروېدنه د قربانۍ ميدان ته ور دانگلي دي.

**پښتنه پېغله د جنګ پر ميدان د خپل مين زلمـی سـره اوږه پـر اوږه ولاړه ده او داسي ورته وايي :**

پام کوه وار دي خطا نه سي !
د ګلو ځانګه دي په سر ولاړه يمه

**د ميوند په جنګ کښي چـي پښتنـو د خپـل وطـن د سـاتني دپـاره سرونه پر اورغوي کښېښول يوې پښتني پېغلي خپل ګران مين ، دغـه د ملي دفاع ډګر ته په ډېر افتخار واستاوه، او ددغي ملي غزا مشر تـه ئـې داسي پېغام ور کړ :**

پر ايوب خان مي سلام وايه !
دا دی جانان مي کومکي در ولېږنه

**پښتني مېرمني خو خپل جانان وطني جنګ ته واستاوه، مګر پخپلـه هم ورسره وه :**

هلک به ولي توره نه کا
تر نيمايي مورچله زه ورسره ځمه

**دلته د عشق او وطن مقابله سوه، خو پښتني وطن پالي پېغلي په دغه وطني جنګ کښـي د خپـل مـين قربانېدنـه تـر شکسـت او بـې ننګـۍ خوښه کړه :**

په تور توپک ويشتلئ راسې !
د بې ننګۍ احوال دي مه راځه مينه

**پښتون زلمی بريالی له وطني دفاعي جنګه راستون سـو، نـو مينـي پېغلي دده استقبال داسي وکړ :**

دخيره راغلې ! په خير راسې !
چي د دښمن په مخ کی خړ نه سوې مينه

په دې ډول د پښتنې مېرمنې برخه په پښتو عوامي ادب کښې ښکاره ده؛

په تېرو کرښو کښې مې د پښتو په عوامي ادب او لنډيو کښې د پښتنو مېرمنو برخه بيان کړه، د عوامي ادب يوه بله برخه هم د قصو ناري، او د اتڼ غاړې او د ودونو سندرې دي چې په دغو کښې هم مېرمن لويه برخه لري، او اکثري نارې او سندري د مېرمني له خوا ويلي سويدي.

د پښتنو په عشقي قصو کښې خو مېرمن د يوه پهلوان په دود ځانته موقع او مقام لري، لکه د فتح خان او رابيا يا مؤمن او شيرينو يا ښادي او بيبو يا آدم خان او درخانۍ او په نورو قصو کښې دغه مېرمنې د نازک صنف نرې احساسات د قصې په نارو کښې په ادبي ښکلي او خواږه ډول سره تصوير کوي.

## نارې

په عشقي قصو کښې عموماً دوه تنه پهلوانان مين او مينه موجود وي او قصه د دوی پر کردار باندې گرزي راگرزي مين هم رغونه او نارې لري، خو د ميني نارې ډېرې لطيفي او له ارمانه ډکي وي.

اتڼ د پښتنو پخوانی قومي دود دئ او کله چې زلمي او پېغلي د اتڼ په مستۍ کښېوزي، نو د ميني اور هم ورسره توديږي، او دلته زلمي د ميني نارې په خواږه رغ سره وايي، او د پېغلو له خوا ئې غبرگون هغسې د نڅا او تغنی په مستو څپو کښې ورکول کيږي. مثلاً يو مين زلمی د اتڼ په ناره کښې خپله مينه د بوری نجلۍ داسې پر غوږ وهي :

اتڼ مي د بورى نجوني وهينه
پر ملا کړه وړه سي
شاباس ئې د نامه غوټې وهينه

**د بورى پېغله چي دا ناره اوري ، نو د کندهار زلمى ته د ميني اعلان داسي ورکوي :**

امرت په ونه توره کندهاره !
زلفي مي اوږدې سوې
اوږدې زلفي به څو کرزم بې ياره

اوبوسه ، د ولې غاړه اوبوسه
پر يار مي سلام وايه
دا گل مي د سينې ورلره يوسه

**اتڼ او ځواني او ښادي او مينه خوځوونکي او احساس پاروونکي حالونه دي، پښتنه پېغله د ميني او نڅا په مستۍ کښې د عشق او تجاذب حالت په دې ړغ کښې ښکاره کوي :**

شاباس مي د ډبري وهل کيږي
چي زما د غومبر ړغ سي
ځوانان لکه کوتري را توئيږي

**کله دا ړغونه د مېرمنې د کورنۍ حال او د فاميلي جوړښت احوال هم تصوير کوي او سړى کولاى سي چي د پښتنو مېرمنو د کور او کهول حال پکښې وگوري، مثلاً :**

۞ سور کور مي و پوتی ته دی اوډلی
د خسر زامن مي ډېر دي
ما ئې سرغنه پکي نيولئ

**په قصو او عشقي داستانو کښي هم د مېرمني برخه او ددې وينـاوي د خاصي دلچسپی او توجه وړ دي، او د ميني د دنيا نـازک حـالات پـه ادبي رنګ کښي څرګندوي، مثلاً آدم خان په يوه ناره کښي درخانۍ ته داسي پېغام ور کوي :**

درخانۍ مېرمن ملوکي !
چي په درست جهان دي لاړې د حُسن کوکي
آدم ستا کتو رنځور کړ
که ورکوزي کړې د دواړو زلفو څوکي

**درخانۍ ددې ناري غبرګون د خپـل انتظـار او درد پـه بيـان سـره داسي کوي :**

په دا نيم پلنګ يم ناسته
نيم پلنګ مي ګوره تا وته پرېښئ
چي ته زلمی رانغلې، آدم خانه !
د اوربل وېښته مي ژاړي ګوښئ کوښئ

**د ښـادی او بيبـو داسـتان هـم د پښتـو پـه عـوامي ادب کښـي نـه هېرېدونکي ذخيره ده. په دې قصه کښي د بيبو نـارې او رغونـه خاصـه جذبه او کشش او حرارت لري، او دې پښتنې ميني د خـوږمن زړګـي تړوتې په دغه رغو او نارو کښي نغښتي دي.**

**هغه وخت چي ښادی د سـفر پـه نيـت روان دی، او بيبـو کـوښښ کوي چي راوې ګرزوي نو وايي :**

ښادی جان گرزوم نه پاتي کيږي
ښادي جان گرزوم نه پاتي کيږي
سپينه خولگۍ که ورکومه
ښايسته ښادی مي هم نه راضي کيږي

**دلته مينه د ښادی د زړه نرمولو او له سفره د را گرزولو لپاره يوه بله چاره هم لټوي، او په دې ناره کښې د تخيل سادگي او د سپېڅلي احساس اغېزې ښې ښکاري :**

چلم به ډک کړم د لونگو
دا ژړی پېزوان به پاس پر چلم کښېږدم
نو به يوسم دا چلم
او سپينه خوله به د ښادی په مخکي کښېږدم

**د پېغلې له خوا د سپيني خولې اهداء خپل مين ته خاص لطف لري، او د مينې د دنيا يو ډېر رقيق او په زړه پوري حالت دی، چې فقط عاشق مزاجه خلق ئې په خوند پوهيږي.**

**ښادی بالاخره ولاړ او د بيبو سعيه ناکامه سوه، د بېلتانه په تيارو کښې يوازې پاته سوه، زړه ئې لوگی سو، نوئې پر مور داسي ناره وکړه :**

مورکی ورسه بابک خبر که !
زړه مي ډوبيږي اور را لگيږي
ښادی جان ورک سو، نه را ستونيږي
چې ښادی نه وي نو ژوند هيڅ نه وي بيبو ته !
ارمان ! ارمان ! ښادی مي بايلو !

**د بيبو د مينې لمبې نه سړيږي، او هر کاروان چې د بکوا پر دښت تېرېږي، بيبو د خپل گران ښادی په تلاښ د هغه استقبال کوي، خو**

ښادی نه راځي، او د بيبو د عشق نغری لا توديږي، او د زړه انګار ئې لا پسي مشتعل کيږي، د ياس او ناميدۍ احساس سره داسي ناره له خوږمنه زړه را باسي :

کاروانونه د بکوا پر دښت تيريږي
کاروانونه د بکوا پر دښت تېريږي
ښادی خان ورسره نسته
په دا نور کاروان مي مينه نه ماتيږي
زما ارمان ! ښادی مي بايلو !

دا ناري او ږغونه د پښتنو د تعبير او د احساس د تصوير لپاره له عامي محاوري څخه کار اخلي، او په ترکيب او وزن او تغنی کښې خاص قوت او خوند پروت دی.

د ځينو مسريو تکرار خاصه معنی لري، مثلاً په لوړه ناره کښي د کاروانو تسلسل د بکوا پر دښت د ميني د تلاښ تسلسل او دوام راښئي، او دا چي بيبو د خپل مين د بازګښت په ارمان د هر کاروان مخي ته وزي، او نامينده راځي، د عشقي دنيا د محروميت يو دردناک او زړه سوځوونکی تصوير دی.

همدغه د تعبير قوت او د وينا سپېڅلتوب هغه وخت ښه ښکاري چي ناره په يوه مبهم بيان او شرط کښي سره شرو سي او ددې ناري خوند فقط اهل زبان ته ورمعلوميږي.

مثلاً ګل مکۍ يوه بله پښتنه پېغله مينه ګران مين موسی جان ته داسي خطاب کوي او د اُفق مصوري هم د خپل شعر وښکلا ته رابولي :

که سرې سوې، سرې سوې
د آسمان کناري سرې سوې
موسی پښنه اخله سپرېږه !

چي په زړګي مي د مرګي خولې خپرې سوې !

په دې ډول د پښتني مېرمني برخه د عـوامي ادب پـه قصـو او نـارو کښي هم مهمه ده، او موږ ګورو چي د پښتـو ادب پـه تخليـق کښـي د مېرمني ذوق او احساس او ددې هنري لياقت څوني دخالت لري.

## مدون ادب

بې له عوامي ادبه، د پښتو په مدون او کتابي ادب کښي هم مېرمن سمه برخه لري، او موږ ګورو چي د پښتو په نظم او نثر کښي د مېرمني پالونکې او برکتي لاس خپل کـار کـوي، او خلاقـه قريحـه ئـې ډېـر ګلالي او ښکلي بچي پخپله غېږ کښي روزي.

د پښتو د مدون ادب اکثره برخه اوس زموږ له لاسه وتلـې او ضـايع سوې ده، مګر داسي ښکاري چـي مېرمنـي لـه پخـوا څخـه پـه ادبـي حرکاتو کښي لاس لاره او کوم وخت چـي محمـد هوتـک خپلـه پټـه خزانه سره راټولوله نو ده ددغه کتاب يوه برخه د پښتنو مېرمنو شاعرانو لپاره وټاکله او د همدغه مرحوم مؤلـف مشـکوره سـعيه ده چـي اوس موږ د پښتو په ادبي تاريخ کښي ځيني فاضلي مېرمني پېژنو.

## زرغونه کاکړ :

د محمد هوتک پـه روايـت زمـوږ د پښتـو ادب پـه تـاريخ کښـي د مېرمنو د ادبي آثارو قدامت پنځو سوو کلو ته رسيږي او ډېـره پخوانـۍ شاعره چي موږ پېژنو نو زرغونه کاکړه ده او ددې د ژوندانه دوره پسـله (۸۵۰ هـ) تخمين کيږي. دا مېرمن عالمه شاعره او د ښه خـط ليکـونکې وه، د کندهار په تاريخي پنجوايي کښـي اوسـېده، د مـلا ديـن محمـد

کاکړ لور او د سعدالله خان نورزی مایته وه، دې مېرمنې په ۹۰۳ ه کال د شيخ سعدي مشهور فارسي بوستان په پښتو منظوم کړ نوکله چې د پښتو ادب د اخلاقي شاعرۍ تاريخ ليکل کيږي، زرغونه کاکړه به په لومړي صف کښې دريږي.

د زرغونې کاکړې نور اشعار او آثار اوس نه دي پاته، خو محمد هوتک ئې له پښتو بوستانه دغه يو حکايت رانقلوي، چې د زرغونې د کلام فصاحت او سلاست ځنې ښکاري :

اوس د حضرت سعدي له بوستانه اصل فارسي حکايت وګورئ :

شنيدم که وقت سحرگاه عيد — زگرماو آمد بيرون بايزيد
يکي طشت خاکسترش بيخبر — فرو ريختند از سرائی بسر
هميگفت شوليده دستار وموی — کف دست شکرانه مالان بروی
که ای نفس ! من در خور آتشم — بخاکستری روی درهم کشم؟
بزرگان نکردند درخود نگاه — خدا بيني از خويشتن بين مخوا
بزرگي به ناموس و گفتار نيست — بلندي به دعوی وپندار نيست

تواضع سر رفعت افرازدت
تکبر بخاک اندر اندازدت

(کليات سعدی، ص ۲۴۱)

اوس د زرغونې ترجمه وګورئ :

اورېدلې مې قصه ده — چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار — بايزيد چې ؤ رويدار
له حمامه راوتلی — په کوڅه کې تېرېدلی
ايرې خاورې چا له بامه — راچپه کړلې ناپامه

مــخ او ســر ئــې ســو ککــړ
بايزيــد پــه شــکر کښــو ســو
چـــي زه ورېـــم د بـــل اور
لــه ايــرو بــه خــه بــد ورمــه؟
هــو ! پوهــانو ځــان ايــرې کــړ
څــوک چــي ځانتــه گــوري تــل
لــوېي تــل پــه گفتــار نــه ده
تواضــع پــه دي ســر لــوړ کــا

پــه ايــرو پــه خــاورو خــړ
د خپــل مــخ پــه پاکېــدو ســو
چــي پــه اور کــي ســم نســکور
يــا بــه لــړ شــکوه کومــه
لــه لــويني ئــې ځــان پــرې کــړ
خــداي تــه نــه ســي کــړاي کتــل
لــو خبــره پــه کــار نــه ده
تکبــر بــه دي تــل ځــوړ کــا
(پټه خزانه، ص ۱۹۳)

## رابعه :

د پښتو يوه بله قديمه شاعره رابعه ده چې د محمد هوتك په قول د بابرشاه په زمانه کښې په کندهار کښې وه، او دغه تذکره نگار ئې يوه رباعي په پټه خزانه کښې ضبط کړه.

د رابعې د ژوند او کورنۍ هيڅ حال دغه مؤلف نه ليکـي خـو دغـه يوه منقوله ئې هم د معنی او هم د لفظ له پلوه ډېره قيمتي ده او داسي ښکاري چې رابعه يوه پخه او فکوره شاعره وه او د ۹۲۰ هـ په حـدودو کښې ژوندۍ وه.

شعراؤ د انسان په ژوندانه کښې د درد او مينې پر موضوع باندي ډېر او ډول ډول مضامين پيدا کړي دي، مولوی بلخی ويلي وه :

از شبنم عشق خاک آدم گل شـــــد
صد فتنه و شور در جهان حاصل شـد
صد نشتر عشق بزرگ روح زدنـــــد
يک قطره از آن چکيد و نامش دل شد

عراقي د درد او ميني فلسفه پخپل شاعرانه منطق کښي داسي رانغښتې وه :

نخستين باده کا ندر جام کردند
ز چشم مست ساقی وام کردند
بعالم هر کجا درد دلی بود
بهم کردند و عشقش نام کردند

د تفکر په همدغه لړ کښي رابعې يوه رباعی ويلې ده او ډيري ارتي معناوي ئې پکښي ځای کړيدي. د صوفيانو او اشراقي پوهانو داسي فکر دی، چي انسان له يوه لوړه مبداء څخه راپيل سوی دی، او دده روح تل د هغه د خپل اصلي وطن تلاښ کوي او دا دنيا د بېلتانه او د درد او گرومه ډک کور دی، نو ځکه د ژړا او نفير يوه مسلسله او نه شلېدونکې سانده د نيستان په دود دلته او هلته اروېدله کيږي او د مولوی بلخي په قول :

کز نيستان تامرا ببريده اند
از نفيرم مرد وزن ناليده اند
هر کسی کو دور ماند از اصل خويش
باز جويد روزگار وصل خويش

رابعې همهغه د بېلتانه د سوي او گرومه ډکه دنيا او د انسان گرفتاری او مجبوريت په يوه رباعی کښي داسي څرگند کړی، دا وايي :

آدم ئې زمکي وته راستون کا
په اور د غم ئې سوی لړمون کا
دوزخ ئې روغ کا پر مخ د زمکي
نوم ئې د هغه، دلته بيلتون کا

(پټه خزانه ۱۹۵ )

په لومړی بیت کښې د الم اصالت عقیده چې وروستنې ځنې پوهان لکه شوپنهاور او د پسمیزم د مکتب شاگردان د هغې پر خوا دي، ښکاره سوېده او دوهم بیت له مبداء فیاضه د انسان فراق او بېلتون راښیي اما دغسې افکار خو د پښتو ادب په فکري پانگې کښې له نورو خواوو څخه را وارد سوي او ځای ئې نیولی دی مگر دا د پښتو د ملې تفکر اصلي اجزاء نه دي.

## نېکبخته :

په پښتو مېرمنو شاعرانو او پوهانو کښې بله قدیمه ښځه مېرمن نېکبخته د شېخ الله داد مموزی لور او د اشنغر اوسېدونکې وه، چې ددې د ژوندانه وخت د ۹۶۰ ه حدود دي، او شېخ امام الدین پخپل کتاب اولیای افغان کښې ددې احوال لیکلي دي. دا مېرمن د متی زو مشهوري عرفاني او علمي کورنۍ ته ور واده سوه. مېړه ئې شېخ قدم او زوی ئې هغه مشهور شېخ قاسم افغان دی، چې په هند کښې په ولایت او کرامت ډېرشهرت لاره او د اکبر مغولي پاچا په قصر کښې تزلزل اچولی ؤ.

نېکبختي په (۹۶۹ ه) کال په پښتو ډېر مواعظ او پندونه نظم کړل چې هغه یو کتاب سو، او نوم ئې ارشاد الفقراء پر کښېښود، دا کتاب د محمد هوتک په لاس کښې ؤ، او له هغه څخه ئې یو څو ټوټې د نصیحت نظمونه رانقل کړي دي چې د پټې خزانې په وسیله ئې موږ پېژنو.

د نېکبختې پلرگنۍ او خسر گنۍ دواړه د پښتو علمي او عرفاني کورنۍ دي او ډېر تالیفونه او کتابونه له دوی څخه پاته دي چې د شېخ

امام الدين متى زى په تاريخ او د نعمت الله په مخزن کښې ذکر راغلى راځي.

د نېکبختي له زهد او تقوا او عرفاني مقامه څخه ښکاري چې پښتنو مېرمنو يوازې په مادي کارو کښي حصه نه درلوده، بلکې په معنوي دنيا کښي ئې هم د نورو رهنمايي کوله.

## نازو توخى :

دا مشهوره او پوهه مېرمن د پښتنو د يوه لوى مشر سلطان ملخي توخى لور وه او په ۱۰۶۱ هـ د کلات په تازى کښې زېږېدلې وه.

نازو د علم او ادب او توري خاونده ښځه وه او د خل پلار د رياست په قلمرو کښي په شجاعت او سخاوت مشهوره وه لوست ئې پخپل محيط کښي د لويو علماء څخه کړي وُ او پلار ئې د خپل عصر يو پښتون حکمران وُ د پښتنو د آزادۍ نامتو مدافع و، او نازو ئې د هوتکو يوه مشهور مشر ښالم خان ته ورکړه چې ددې له نسله د پښتنو مشهور وطن خوا قايد ارواښاد حاجي ميرويس خان وزېږېدى او دغه لوى ملى مشر د نازو په غېږ کښي تربيت سو.

محمد هوتک ددې لويي پښتنې مېرمنې ډېر محامد ليکي او وايي چې نازو انا عابده او صالحه ښځه وه او دې خپل زوى ته د وطن د آزادۍ او لويو کارو د کولو درس ورکئ، او حاجي ميرويس خان چې په ۱۱۱۹ هـ کال په کندهار کښي د وطن د آزادۍ غورځنګ وکړ، او د پردو قوا ئې پخپل تدبير او مېړانه محو کړل نو ده وويل دا هغه لوى کار وُ چې زما مور ماته سپارلى وُ. نازو انا د پښتنو مېرمنو يوه لويه او د قدر وړ ښځه ده او ددې مېرمنې د عظمت لپاره فقط دا خبره کافي ده چې ميرويس خان غوندي لوى او ملى قائد ئې پخپل غېږ کښي روزلى

دی. نازو د پښتنو د قيادت په لويو کورنيو کښـي تربيـت سـوئ وه، پلرگنی ئې د توخو محلي امراء وو او خسرگنی ئې د هوتکـو د لـوئی شهنشاهی مؤسسـان وه، او د پښتنـو تـاريخ هيڅکلـه ددې د نـامتو زوی حاجي ميرويس خان خدمتونه او فداکاری او تدبير او سياسـت مـداري او وطن خواهي نه هېروي.

محمد هوتك وايي : چي نازو انا د علـم او ادب خاونـده وه، دې د پښتو دېوان هم درلود، چي دوه زره بيته وۀ، او ډېر ښه نکات ئـې لـرل، خو افسوس دئ چي زموږ د ملي ادب دغـه گرانبهـا کتـاب اوس ورک دئ، او موږ له دغه افتخاره زماني محروم کړي يو.

د نازو په کرکتر کښي موږ د قيادت پوهني، زهد، وطن دوستـی د ادبي نفيس ذوق آثار په ښکاره وينو، او دې مېرمني تـه پـه ملـي تـاريخ کښي لوړ مقام ورکوو، څکه چي زموږ د ملـي تـاريخ يـو روڼ سـتوری لکه ميرويس خان د همدې پښتني له پلوه راځلېدلی دی.

د نازو ادبي مقام او هنري لياقت هم د کتلو وړ دی، محمد هوتـک په پټه خزانه کښي د نازو انا فقط يوه رباعي د خپل پلار له خولې رانقـل کړېده. خو دغه رباعي هم د نازو د ادب او هنر ارزښت ښکـاره کـوي، هم د معنی او مفهوم له پلوه ښه شعر دی، هم د صنعت پـه ښکـلا مـزين دئ، د تخيل رنگيني او بداعت پکښي ښکـاري، سلاسـت ئـې پـه لـوړه پوړی کښي دئ نازو وايي :

سحرگه وه د نرگس لـــــــيمه لانده
څاڅکي څاڅکي ئې له سترگو څڅــېده
ما ويل څه دي ښکلې گله ! ولي ژاړې ؟
ده ويل ژوند مي دی يوه خوله خنــديده

پټه خزانه ص ۱۷۹

د انسان د ژوندانه بنسټ وير دی که ښادي؟

دا د بشر د دوو فکري مکتبو د څېړنې موضوع ده، د بدبينۍ او تشاوم مدرسه خپل اساس پر وير او الم ږدي، مگر د خوش بينانو ډله وايي : چې ښادي او خوند او مسرت اصل دی، او وير يو فرعي او عارضي حادثه ده.

علامه اقبال د شرق فيلسوف شاعر دغه دواړه فکري مدرسې په دوه بيته کښې داسې خلاصه کوي :

شبی زار ناليـــــــــد ابر بهار
که اين زندگی گريهٔ پيهـم است
درخشيد برق سبک سير وگفت
خطا کرده خندهٔ بـــــکدم است

د آلمان د دوو پوهانو شوپنهاور او نيچه فلسفي مکاتب هم پر دغو دوو فکرو باندې بناء سويدي، او دا چې د بشر په قديم تاريخ کښې د بودائيت مکتب هم د وير پر ستنه ټينګ وُ، يوه ښکاره تاريخي خبره ده.

مگر راسئ وګورئ چې د بشر په دغه فکري کشمکش کښې يوه پښتنه فکوره مېرمن څنګه قضاوت کوي؟ هغه څوک چې د انسان په فکري تحول او د اقوامو د ملي مزاجو په جوړښت کښې ځير سوی دی، په دې خبره ښه پوهيږي چې د انساني فکر او پوهنې د نشوونما ځای لکه دده فزيکي ساختمان غوندې دغه محيط او د ژوندانه چاپېر دئ، او هر شاعر يا فکور سړی له خپله محيطه الهام اخلي او د فکري پرورښت مواد هم له خپله محيطه څخه راټولوي.

داسې ښکاري چې نازو انا د پښتنو په يوه پاخه فکري چاپېر کښې روزلې سوې وه، او ودې د ژوندانه په فلسفه کښې هسې فکر کاوه، لکه د پښتونوالي په دنيا کښې چې عامو پښتنو ژوندانه ته په کوم نظر کتل.

پښتانه ژوندانه ته په بده سترگه نه گوري او دا دنيا ددوي په نظر کښې د وير تورتم نه دی، دوی ژوند خندا گڼي، او د نفي او تشاوم فکر ئې په مغزو کښې نه وي، ا ودا چې پښتانه د زرو کلو تاريخي ناوړو او تاړاکونو سره هم ژوندی پاته سوي، او ځانونه ئې لکه نور محکوم ملل د سياست او اخلاقو او ملي هويت له مخې، د تاريخ د ناوړه جريان په مقابل کښې هم نه دي بايللي، روحي او اجتماعي علت به ئې دا وي، چې دوي په ژوندانه کښې بدبين نه دي، او ژړا د مېړه لپاره لوی عيب گڼي او پر وير او الم باندي د حيات فلسفه نه بناء کوي، او که د دوي په ملي يا فردي ژوندانه کښې هم کله د وير او شواخون څپې راغلي وي، هغه هم د نازو انا په ادبي تعبير يوه خوله خندا ده، ژوند دی حرکت دی فعاليت دی.

ياس او قنوطيت او تشاوم او بدبيني اساساً د پښتانه په ژوند کښې نسته او کله چې دوي د جگړې ميدان ته د مرگ لپاره وردانگي ، هم په اتڼ او سندرو او خوښۍ ورځي.

نازو انا دغه د پښتنو اجتماعي روحيه په لوړه رباعي کښې څرگنده کړېده.

سحرگه د نرگس ليمه لانده وي، او د پرخي سپين ککی خاڅکي ئې پر ليمو لکه د اوښکو مرغلري غونډي بريښي، مگر دا يو نمايش دئ، حقيقت نه دی، ژړا نه ده، او موږ بايد له نرگسه سره بې سببه په ساندو کښېنوزو ځکه چې د هغه د شباب او نڅا او غوړېدلو او د ښکلا د ظهور وخت دی، دی يوه خوله خاندي، خو خاندي، ژاړي نه.

د يوه فرد يا يوې اجتماع او ملت لپاره هم په اجتماعي ټولنيز ژوند کښې دغه د نازو انا درس ډېر اهميت لري. د فرد ژوند هم يوه خوله خندا ده، دا تعبير ډېر خوږ او معني داره دی يوه خوله خندا، قلت او

سرعت ښکاره کوي، مگر دلته د نفي او قنوطيت اثر نسته، بايد دغه يوه خوله خندا هم غنيمت وګڼلي سي او د ملي ژوند لپاره استفاده ځني وسي ځکه که د فرد ژوند لنډ وي، د ملت ژوند خو اوږد دی او دغه يوه خوله خندا په ابدي خندا تبديليږي.

وګورئ ! نازو انا څوني فکوره او محققه او دخپل کام په روحيه پوهه ښحه وه؟

زموږ پر قوم د منفي تصوف څپې څو قرنه دمخه راغلي وې، او خلق ئې د وير او ژړا او مرګ تروتم ته وربلل، مگر ددې پښتنې فکري مکتب بيل وُ، او عملاً ئې د خپل زوي اروابناد ميرويس خان په لاس، پخپل اولس کښې حرکت او غورځنګ او ژوند او ښادي او نشاط خپور کړ، او دا ئې ثابته کړيه چي :

"ژوند يوه خوله او يا ابدي خندا ده"

## حليمه خټکه :

د خټکو د لوړي او درنې کورنۍ ادبي کارنامې او په پښتو ادب کښې د دوي درانه او ګرانبها آثار معلوم او مشهور دي.

کله چي د پښتو د نظم او نثر تاريخ ليکل کيږي نو د خټکو آثار هلته په لومړي پوړ کښې دريږي، د پښتو پلار خوشحال خان او دده زامنو او لمسو په ادب کښې داسي آثار پريښي دي چي که دغه درانه کتابونه او اشعار او منثور اثرونه نه وای نو به د پښتو ژبه په حقيقت کښې له ډېرو لوړو ادبياتو څخه محرومه وای.

له دې کورنۍ څخه موږ د پټي خزانې په برکت يوه اديبه او عالمه مېرمن هم پېژنو، چي حليمه د خوشحال خان لور او د عبدالقادر خان سکه خور وه، محمد هوتک له خپله پلاره روايت کوي چي دې پښتنې

مېرمني مروجه علوم لوستلي وه، او د شيخ سعدي روحاني سړي مريده وه. عمر ئې په لوست او عبادت تېراوه، نـورو مېرمنـو تـه بـه ئـې درس لوست. فاضله، عارفـه، شـاعره او د قـرآن حافظـه وه، د مولانـا بلخـي مثنوي ئې ډېر لوست او د دغه کتاب ډېر مشکلات به ئې حل کـول، او ددې په شعر کښي د مجاز پر ځاى د حقيقت رنګ ښکاري.

د حليمې له اشعارو څخه فقط يوه غزل موږ ته د محمد هوتـک پـه همت رارسېدلې ده او دغه غزله هم ده له خپله پلاره اروېـدلې وه. دى وايي چي زما پلار بنون ته تللى وُ، هغه وخت لا حليمه ژوندۍ وه.

محمد هوتک خپل کتاب پـه ۱۱۴۱ هـ ليکلـى دى نـو دده د پـلار د ژوندانه زمانه هم د ۱۱۰۰ هـ حـدود دى، چـي پـه دغـو وختـو کښـي د حليمې د ژوندانه دوره ده او داسي ښکـاري چـي حليمـه د خپـل پـلار خوشحال خان تر مرګ وروسته هم ژوندۍ وه.

د حليمې له يوې غزلي څخه موږ دا معلوملاى سـواى، چـي دې روان کلام او خوږه وينا درلوده، د مروج شعر په ژبـه او اصـطلاح پـوره آشنا وه او ځيني عرفاني مطالب او د تصوف غـوره مقاصـد ئـې پخپلـو اشعارو کښي اداء کول لکه چي له دې غزلي ښکاره ده :

د اشنـاى پـه فکـر خوښـه هسـي شـان سـوم
نـه پوهېـږم چـي ممتـاز کـه نورجهـان سـوم
چـي ئـې کړمـه سـتا پـه مينـه سـرفرازه
ثنـا خوانـه پـه څـو رنګـه د رحمـان سـوم
چـي مجـاز مـي د ايـاز ولاړ لـه زړه نـه
سـربلنده تـر محمـود غونـدي سـلطان سـوم

و هـر چـا وتـه چـې گـورم واړه دی دئ
د جمـال پـه ننـدارو ئـې شـادمان سـوم
غيـر فكـر مـي لـه زړه نـه را بهـر سـو
پـر خليـل او پـر عـدو بانـدي يكسـان سـوم
"حلـيمې" د غمـاز مكـر زيـات لـه حـد سـو
چـې دي ښـل لـه يـاره نـه كـا پـه گمـان سـوم

## زينبه هوتكه :

حاجي ميرويس خان د ښالم خان زوی د هوتكو لوی او وطن خواه مشر او د ټولو پښتنو هغه مهربان پلار ؤ، چي تر خوشحال خان وروسته يې په كندهار كښي د آزادي خواهۍ او د خپل قوم د سياسي ژوند اساس ايښي ؤ زموږ د وطن په مشهورو مشرانو او رجالو كښي اروابناد ميرويس خان له دې جهته خاص امتياز لري، چي دې لوی مشر فقط د خپل ملت د استقلال په لاره كښي مثمره سعيه وكړه، او ښتانه ئې د صفويانو د پردۍ سلطې په مقابل كښي سره متفق كړل او د عمر تر آخره پوري ئې د خپل ملت د رهنمايي او قيادت وظايف په موفقيت تر سره كړل، او خپل شخصي دواعي ئې په ملي خدمت كي گډ نه كړل، د يوه غمخور سپين ږيري او مشر په ډول ئې اداره او مشرتوب كاوه. په قوم كښې د اعتماد او يو والي او ملي وحدت روح پو كئ او همدغسي په نيك نامه تر اته كاله قيادت وروسته په سپين مخ خدای ته ولاړ. د اروابناد حاجي ميرويس خان په كورنۍ كښي تر ده وروسته لوی شاهان فاتحان پيدا سول، او دده زوی شاه حسين د نادر افشار تر

يرغله په کندهار کښي يو ادب پالونکئ او د علم او پوهانو قدردان پادشاه وُ.

د هوتکو په دغه درنه کورني، کښي مور، دوي د علم او ادب خاوندي مېرمني هم پېژنو، چي يوه مېرمن نازو د حاجي ميرويس خان مور وه، او ما ددې ادبي ماثر دمخه ښاغليو لوستونکو ته وښول. بله عالمه او اديبه مېرمن بي بي زينبه د حاجي ميرويس خان لور ده، چي د ملا نورمحمد غلجي څخه ئې لوست کړی وُ، او د محمد هوتک په قول يوه هوښياره او عالمه ښځه وه او د حکومت په کارو کښي به ئې د خپل ورور شاه حسين سره هر کله مرسته کوله د ښې او پخې رای خاونده وه، د شاهي حرم ښځو ته به ئې تدريس کاوه، دې مېرمني د خپل عصر مروج علوم او ادبي او ديني کتب ټول لوستي وه، د شعراوو پر دېوانو او اشعارو ئې پوره عبور لاره، او د موذنانو او شاعرانو قدردانه وه.

بی بی زينبو په کندهار کښي په تدبير اوعقل او کياست شهرت درلود چنانچه سلطان محمد کندهاری مؤرخ هم ددې مېرمني د هوښيارۍ او پخې رای ستاينه کړېده.

دې مشهوري مېرمني په پښتو ادب کښي لويه برخه درلوده.

د لوی ملی قايد حاجي ميرويس خان دغه پوهه لور په پښتو ادب کښي غټه برخه لري، او د محمد هوتک په قول دې مېرمني ډېر ښه شعرونه ويلي دي د حاجي ميرويس خان په اولاده کښي مور، درې تنه شاه محمود او شاه حسين او مېرمن زينبه پېژنو. هغه وخت چي شاه محمود په فتوحاتو بوخت وُ، نو دده کشر ورور په کندهار کښي پاچا وُ، او ددې زلمي پادشاه د دربار ادبي رونق او کره وړه د محمدهوتک له نوشتو څخه ښکاري، او د پښتو ژبي د شعراوُ تذکره

پټه خزانه هم دده په دربار کښې ليکلې سوې، او دغه ادب دوست پاچـا ته اهداء سوې وه.

ددې دربار اکثر رجال د پښتو ادب پالونکي وو، ډېر پښتو تاليفونه په دغه دوره کښـې ليکـل سـويدي، او مېـرمن زينبـو هـم ددغـه سمسـور گلستان يوه ښايسته غوټۍ ده. محمد هوتك وايي : چې د شاه محمود د مرگ ږغ کندهار ته راورسېد، نو دده خور زينبو ډېره غمجنه سـوه، او يوه مرثيه ئې د خپل ورور په ږغ کښې وويله، چې دغه وېرنه دې په پټـه خزانه کښې رانقولي مرثيه په پښتو وېرنه بولي، او د شعر دا صنف زموږ په ادب کښې ښه سابقه لري، او په پارسي او پښتو ادب کښـې لـه قديمـه ډېره غوره مراثي لرو.

په پښتو ادب کښې د مرثيې لپاره يو خـاص وزن هـم سـته، چـې د شاه محمود دغه مرثيه پر هغه وزن برابره ويلې سوې ده.

دا مرثيه د يوې پښتنې مېرمنې له خوا د خپل فـاتح او بريـالی ورور پر مړينه باندې د خوږمنو احساساتو اظهار دی، خو د تغنی يـو خـاص آهنگ هم لري او د سپرو بدلو په دود د يوې ډلې له خوا ويل کيږي.

د زينبو بی بی دغه شعر يوازې د خپل ورور پر مـرگ سـاندې نـه دې، بلکه د يوه ملي ماتم افسانه او د قومي ټولني د احساس ترجمـاني ده. زينبو يـوازې پـر دې خبـره نـه ژاړي چـې ددې ځـوان او بريـالی شهنشاه ورور تر دنيا تېر سوی دی، بلکي د امېرمن په ملـی عظمـت او قومي شوکت پسې ژاړي، د پښتو په بايللي بريالتيا پسـې ژاړي پـه هغـه لوی مملکت پسې ژاړي چې د ايشيا په زړه کښې ئې ځـای درلـوده. دا مرثيه داسې شروع کيږي :

| | |
|---|---|
| رېغ سو چي ورور تېر له دنيا سونا | کنـــدها رواړه پـــه ژړا ســـونا |
| زړه مـي پـه ويـر کـي مبتلا سـونا | چي شاه محمـود لـه مـا جلا سونا |
| دا روڼ جهـان راتـه تـورتم دی نـا | زړه د ببلتـون پـه تېـغ کـرم دي نـا |
| هوتـک غمجـن پـه دې مـات دی نـا | د پاچهـي تـاج مـو بـرهم دی نـا |
| چي شاه محمود تېر له دنيا سونا | کنـــدهار واړه پـــه ژړا ســـونا |
| ځـوان ؤ مېـړه د تـوري جـنگ ونـا | ولاړ د کـام پـه نـام و نـنگ ونـا |
| دښمـن لـه ده پـه وينـو رنـگ ونـا | پـر ميـدان شېر ؤ يـا پـالنگ ونـا |
| افسـوس چـي مـرگ دده پـر خـوا سـونا | کنـــدها رواړه پـــه ژړا ســـونا |
| محمـوده ! نـه يـوازي خـور ژاړي | پـر مـرگ دي ټولـه کلي کـور ژاړي |
| خپلـوان لا څـه پاچـا دي ورور ژاړي | لښکـر سـپاه دي پلـی کـور ژاړي |
| پښتـون دی ټـول پـه واويـلا سـونا | کنـــدها رواړه پـــه ژړا ســـونا |
| پادشـاهي پاتـه تـاج نسـکور عالمـه | چي شاه محمود سو نن په گور عالمه |
| د پښتون لمر سو، تيـاره تـور عالمـه | راتـه دښمـن بـه کـار پېغـور عالمـه |
| چـي پاچـا ولاړ پښتـون گـدا سـونا | کنـــدها رواړه پـــه ژړا ســـونا |

زينبو په دې مرثيه کښې د پخوانو شاعرانو په دود له فلکه سره هم گيلې او گزارې لري، اما دا گيلې هم پر يوه قومي مفکوره بنا دي، د ملت د پيوند د شلېدلو غم خوري، د ورور د مرگه سره سره په دې هم غم جنه ده چي د ملت د اتحاد مرکز وران سو، او د پښتنو د عظمت بنياد هم ورسره متزلزل سو، وايي :

| | |
|---|---|
| اسـمانه ! بيـا دي څـه ستم کـا خرگنـد | وشـلاوه تـا چـي د پښتـون وو پيونـد |
| دښمن دي بيا زموږ په وير کار خورسند | چي شاه محمود دي کا په قبر کي بند |
| پـه کـور مـو ويـر شـور و غوغـا سـونا | کنـــدهار واړه پـــه ژړا ســـونا |
| اورم نـارې د غـم چـي کړينـه فريـاد | پښتـون پـه مـرگ د شاه محمـود سو بربـاد |

زړونه چي تل به وو ښادمن، سوه ناښاد | د ساندو رېغ دی چي راورينه ئې باد
ماتم زده پير و برنا سونا | کندها رواړه په ژړا سونا

تر دې ځايه زموږ بحث د پښتني مېرمنو پر ادبي فعاليتونو باندي پای ته ورسېده، اوس له دې اوږدې څېړني څخه په لنډ ډول دا څو خبري د نتيجې په توګه ښاغلو لوستونکو ته وړاندي کوم.

۱. په پښتو شاعري کښي د پښتني مېرمني برخه ډېره غوره او قديمه ده. او په رزمي او بزمي او اخلاقي او عشقي شاعری کښي تکړه ښکاري.

۲. د پښتو په نثر کښي هم مېرمن ښه برخه لري، خو د نظم ذوق ئې قوي تر دی.

۳. په پښتو نامدون ادب يعني لنډيو او نارو او بدلو کښي مېرمن پوره برخه اخلي، او د عشق افسانو د ادبي نارو اکثره برخه د مېرمني له خوا ده.

۴. د پښتو لويو مشرانو او رهنمايانو او ملي رجالو د سيرت په تشکيل کښي د مشهورو او پوهو مېرمنو لاس ډېر غښتلئ وُ، لکه نازو د ميرويس خان مور، يا زرغونه د احمدشاه بابا مور، نو ګويا دوی له خپلو ادبي لياقتونو او افکارو مظاهر د خپلو اولادو په سيرت کښي را ايستي دي.(۱)

(۱) زېری کالنی، ۱۳۵۷ کال، ۱ ـ ۲۴ مخونه.